شریعت

SHARIAT weekly

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کال ۲۷ مه ګڼه پرله پسې(٤٠٧)یکشنبه د۱٤۲۲هـ ق کال د محرم الحرام(۲۱)

د ۱۳۸۰هـ ش کال د وری د میاشتې(۲٦)د ۲۰۰۱ میلادي کال د اپریل (۱۵)

د بوی غونډی په ترڅ کې :

داوبو او برېښنا وزارت فعالیتونه وځېړل شول

کابل - باختر :

د جلال آباد په ښار کې د برېښنا په تولید او ویش کې د ستونزو او هماهنګی د رامنځته کولو په مقصد پرون د اوبو او برېښنا د وزیر محترم مولوی احمد جان په مشری یوه غونډه جوړه شوه .

په دې غونډه کې چې د اوبو او برېښنا وزارت د معین محترم مولوی عبدالهادی د کندهار برېښنا د موسسې د مرستیال محترم مولوی عبدالاحد اخند او د اوبو او برېښنا وزارت د رئیسانو او چارواکو په ګډون جوړه شوې وه . دغه وزارت لخوا د لېږل شوی هیأت رپوټ چې د برېښنا رسولو د شبکو د برېښنا په تولید او ویش کې د هماهنګی په مقصد د جلال آباد ښار ته لېږل شوی و او ورېدل شو .

په دې غونډه کې وپتېیل شوه چې دغه هدف ته د رسېدو په خاطر دی د جلال آباد په ښار کې تنظیمونکی دفتر پرانستل شي .

چې د هغو د طرحی په وړاندی کولو سره لږ تر لږه د اتو میاشتو لپاره د جلال آباد ښاریانو ته په نورمال ډول برېښنا وویشل شي .

٤ مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته .

(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذارید.

طبق اظهارات شاهدان عینی :

در صفوف مخالفین یك ائتلاف جدید در حال آبستن است

با رویکار شدن نبی عظیمی آصف دلاور و بابه جان، چور و چپاول منازل مسکونی در مناطق تحت نفوذ مخالفین گسترش عمیق یافته است

مجاهدین اصیل و پاك طینت هر آن در صدد تسلیمی به نیرو های اردوی ا.ا.ا لحظه شماري میکنند

اکثر اهالي مسکوني از مناطق تحت سیطره مخالفین به شهر تالقان پناه برده اند

کابل - شریعت :

همزمان با در رأس قرار گرفتن جنرالان سرشناس کمونست چون نبی عظیمی، آصف دلاور، بابه جان و ... در صدر قطعات و جزو تام هاي به اصطلاح مجاهدین مسعود: چور و چپاول منازل مسکونی مردم در ساحات تحت نفوذ مخالفین گسترش عمیق یافته حتي اهالي مسکوني مجبور به ترك خانه وكاشانه شان شده و به شهر تالقان که در ید نیرو های ا.ا.ا مي باشد پناه برده اند. شاهدان عیني که اخیراً از آن مناطق به کابل برگشته اند یکبار دیگر پرده از ظلم و پاتك سالاري به اصطلاح مخالفین برداشته میگویند : امروز وضع اقتصادي اهالي مسکوني به اثر بی امني در آن مناطق نهایت وخیم بوده، هکذا ذوق و بالهوسي قوماندانان

ص ٤

از طرف شاروالي ژنیو با شاروالي کابل مساعدت صورت گرفت

کابل - باختر

محترم مولوي حمد الله نعماني شاروال کابل دیروز با هیأت کشور سه نفري سویس ملاقات نمود.

در آغاز این ملاقات محترم شاروال کابل پیرامون برنامه هاي کاري هیأت متذکره معلومات خاص حاصل نموده تاکید به عمل آورد این ملاقاتها زماني موثر واقع میگردد که آنچه در این ملاقاتها مطرح میگردد در مورد تحقق آن گامهاي عملي برداشته شود.

در مقابل هیأت متذکره از تسلیمي دو پایه واتر پمپ به کمیته آي سي آر سي در کابل که

ص ٤

د هرات ولایت کې مېشتو مهاجرېنو باندې:

خوراکي او لوژستېکي مواد وویشل شول

هرات - باختر :

د هرات ولایت د شیدایي په کمپ کې په مېشتو مهاجرېنو باندې یوه اندازه خوراکي او لوژستېکي مواد وویشل شول .

په دغو خوراکي موادو کې د هیواد د احساس لرونکي سوداګر محترم عصمت الله د

٤ مخ

په کابل کې :

د سوداګرې د اتاقونو مشورتي غونډه جوړه شوه

کابل - باختر :

د کابل د سوداګرې د اتاقونو مشورتي غونډه پرون د سوداګرې د وزیر محترم مولانا عبدالرزاق په مشرې جوړه شوه .

ددې غونډې په ترڅ کې چې د سوداګرې د اتاقونو د رئیس محترم ملا محمد داود عابد د مالیې وزارت د عوایدو رئیس د ګمرکاتو مرستیال بو شمېر ملي سوداګرو او پانګه والو په ګډون د سوداګرې او صنایعو د

ص ٤

له مزار شریف څخه :

کابل ته په کیمیاوي سرې باریو کاروان راورسید

کابل - باختر :

په او(؟) سوه پنځه نوي ټنو کیمیاوي سرې بار کاروان پرون د مزار شریف له ښار نه کابل ته راورسید.

د مزار شریف د سرې او برېښنا د فابریکو د تصدی د تولید اووه سوه پنځه نوی ټنه کیمیاوی سره چی ٦٧٥ ټنه یی د یوریا

٤ مخ

په فلسطین کې :

حماس له صهیونستي تیري کوونکو سره د جهاد پر دوام ټینګار وکړ

نړیوالي خبري سرچینې :

د فلسطین د حماس د اسلامي مقاومت د غورځنګ مشر د اسرائیلو د صهیونیستي رژیم د برغلګرو پر خلاف د فلسطینیانو د وسله والي مبارزې په دوام

٤ مخ

در شبرغان :

اولین کلینیك معاینات تلویزیوني افتتاح گردید

شبرغان - باختر :

اولین کلینیك معاینات تلویزیوني در شهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان دیروز طی محفلي افتتاح گردید.

در محفلي که بدین مناسبت ترتیب یافته بود سرپرست ریاست صحت عامه ولایت جوزجان افتتاح کلینیك متذکره را یك اقدام انسان دوستانه خواند.

این کلینیك که در آن معاینات مختلف تلویزیوني انجام داده میشود به همکاري ریاست صحت عامه ولایت جوزجان و مساعدت مالي محترم شاه محمد بختیار یکتن از همرطنان با احساس ما ایجاد گردیده است .

با افتتاح کلینیك متذکره که

ص ٤

از جانب همرطنان اهل هنود و سکهـ ما :

ازجشن مذهبي ویساك درکابل یاددهاني گردید

کابل - شریعت : سه صدو سومین جشن مذهبي ویساك از جانب همرطنان اهل هنود و سکهـ ما روز شنبه در پایتخت کشور طی مراسم خاصي برپا گردید .

خبرنگار ما در زمینه چنین گزارش میدهد : بیست و سوم حمل که مصادف است به جشن ویساك یعني روز پیدایش سکهـ یا سرداجي، لهذا همرطنان اهل هنود و

ص ٤

په بنګله دېش کې :

د بم د چاودنی له امله ۸ تنه ووژل شول

نړیوالي خبري سرچینې :

د بنګله دېش په پلازمېنه ډاکه کې پرون د بم د چاودنی له امله اته تنه ووژل شول او څو تنه نور ټپيان شول.

دغه چاودنه د رامابا ټومور په پارک کې چې ټاکل شوی وه یو هنری

٤ مخ

ملاګلبدین مطمئن رئیس استخبارات ولایت بامیان :

الحمدلله فعلاً در ولایت بامیان امنیت مطمئن تأمین میباشد

ولایت بامیان که به مثابه، قلب پرتپش در مرکز افغانستان موقعیت داشته ، ولایات شمال را با پایتخت وسایر ولایات کشور وصل مي کند . ولایت بامیان پس از استقرار نظام عدل گستر الهي درکشور چهره و سیماي دیگري بخود گرفته ، مناسبات اجتماعي میان اهالي آنجا که در گذشته در اثر جنگهاي گروهي وقومي وتعصبات لساني وملیتي کاملاً عوض گردیده بود : بافتح این ولایت بوسیله نیروهاي امارت اسلامي به فضاي اخوت وبرادري مبدل گردیده وساکنین آن برادر وار تحت لواء توحید زندگي صلح آمیز شانرا در پرتوامنیت وآرامش دنبال مي نمایند .

خبرنگار ماکه اخیراً . از ولایت بامیان دیدن نموده است پیرامون اوضاع سیاسي ونظامي در آنولایت مصاحبه را با محترم ملاگلبدین مطمئن رئیس استخبارات ولایت بامیان انجام داده است که اینك به توجه شما رسانیده میشود

در آغاز محترم مطمئن چنین گفتند : امنیت کامل

ص ٤

مشوره د اسلام یو اهم رکن دي

ص ۲

ترکیه برنامه هاي اقتصادي خود را اعلام داشت

منابع خبري جهان :

حکومت ترکیه دیروز از اثر فشار هاي داخلي مجبور گردید تا برنامه اصلاحي اقتصادي خود را اعلام دارد .

بگزارش آژانس خبري اناتولیه از اثر بحران اقتصادي که اخیراً دامنگیر آنکشور شده است نرخ پول مروجه آنکشور در برابر دالر امریکایي چهل در صد کاهش یافته است .

در نتیجه این بحران اقتصادي ترکیه که سبب بیکار ماندن هزاران نفر در کشور گردیده دیروز نیز جاده هاي انقره پایتخت ترکیه ناظر مظاهرات ضد حکومتي و برخورده مظاهره کنندگان با پولیس آنکشور بود.

ص ٤

در مورد حادثه طیاره جاسوسي :

کشور چین امریکا را متهم نمود

منابع خبري جهان :

کشور چین دیروز ایالات متحده امریکا را به تلاش براي نیپه‌برقتي مسئولیت حادثه برخورد طیارات دو کشورمتهم کرد .

نطاق وزارت خارجه چین دیروز گفت ایالات متحده امریکا نباید بدنبال یافتن بهانه براي شانه خالي کردن از مسئولیت این حادثه باشد نمایندگان نظامي ایالات

ص ٤

په عراق کې :

د عراق هوایي ځواکونو په امریکایي الوتکو برید وکړ

بغداد - باختر :

د عراق د دافع هوا پوځ اود امریکا د متحده ایالاتو جنګي الوتکو ورمه ورغ یو ځل بیا د عراق د پاسه په یو بل باندې بریدونه وکړل دغه متقابلي ډزې له هغه وروسته وشوې چې

۳ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

تهران اعلامیه د لاس وهونکي مثلث د ریمه جرګه !

د اسلامي امارت د مخالفینو د لا ګوښه‌توب او کمزوري نه وروسته، روسیه، هند او ایران په وارخطایي او لالهاندی سره هلی ځلی کوی تر څو په افغانستان کی څو شپې نور هم د جګړي عمر زیات او مخالفینو ته د خپلو وسلو، پیسو او لفظی ډاډګیرنو په واسطه نوی سا ورکړی، دغه لاس وهونکي او غرضي مثلث تل هڅه کوی د خپلو سرمشریزه جرګو د بحث او پریکړو لومړی تکی همدا د افغانستان اندیښنی او د اسلامي امارت غندنه اعلان کړی په دی لړ کی څه وخت وړاندی ایرانی

۲ مخ

در فلسطین

برخورد ها بین مجاهدین و صهیونستهاي اشغالگر ادامه دارد

منابع خبري جهان :

برخورد ها میان مجاهدین فلسطین و اشغالگران صهیونست دیروز نیز در فلسطین اشغالي ادامه یافت .

رادیو صداي فلسطین دیروز گزارش داد که اشغالگران صهیونست حومه شهر خان یونس را هدف آتش سلاحهاي مختلف النوع قرار داده که از اثر آن یك فلسطیني شهید و هفده تن دیگر مجروح گردیدند.

در گزارش آمده است در یك حادثه دیگر زمان که اشغالگران صهیونست خواستند یك مدرسه فلسطیني را در بیت اللحم تخریب کنند مورد حمله مجاهدین فلسطیني قرار گرفتند.

این در حالي است کـه اریل شارون صدراعظم رژیم

ص ٤

که خپلواکی ساتل غواړۍ نو لومړی له نیستي څخه ځان خلاص کړی

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۳) کلداري
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱توزیع و شکایات :٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

ولس مشر د مسکو دوره وکړه او د ګډې اعلامیې په ترڅ کې بیا هم د افغانستان په هکله د یوې شریکې ستراتیژۍ څرګندونه وشوه ، له هغه مخکې روسي مشر پوتین نوې ډیلي ته په دوره تللی و چې د کتنې په پای کې یې د افغانستان په هکله ډېره لمسوونکې او ترخه اعلامیه صادره او دواړو هیوادو په شریکې ملګرتیا ټینګار وکړ او دا دې اوس دریمه جرګه په تهران کې وشوه چې دا ځل بیا هم د هند لومړی وزیر واجپای او ایراني ولس مشر په شریکه د افغانستان په هکله د ملګرتیا او شریکو اندیښنو اعلامیه خپره کړه خو په هر صورت په دې کې شک نشته چې د مسکو، ډیلي او تهران د واکمنو پټې دسیسې او لاس وهنې د هغوی د ظاهري او څرګندو اعلامیو نه څو واره زیاتې خطرناکې او له دښمنۍ ډکې دي او دا به له هیچا پټه نه وي چې افغانان اوس یقیناً د همدې کینه ناک مثلث د لاس وهنو او توطیو په اور کې سوځي د همدغو هیوادو په ټوپونو او بمونو ویشتل کیږي او د همدوی په لمسونه یې د هیواد سوله او ثبات له ستونزو سره مخ دی د سیمې دغه درې ملګري ربښتیا هم د افغانستان په جګړه کې مخصوصې ګټې لري نو ځکه هر یو هڅه کوي نور هم د جګړې اور، بل او ژبغراندو ساتي. دا چې هغوی اوس په ګډه افغانستان سیمې ته سخت ګواښ او امنیت ته خطر بولي، ښایي د ځانې ګټو په هکله به د خپلو اندیښنو یو ډول تعبیر کوي ، مګر حقیقت دا دی چې اسلامي امارت په سیمه کې د ثبات او استحکام ضامن او له ټولو نږدې او لرې ګاونډیو هیوادو سره د ملګرتیا او ښو اړیکو غوښتونکې دی، خو له بده مرغه د تهران په جرګه کې واجپای اسلامي امارت خطرناک مګر په کشمیر کې خپل ظالمانه یرغل د سولې او امنیت لپاره یو ضروري ګام وباله تر څو په دې توګه د نړیوالو پام د کشمیر له موضوع منصرف او لا د ایران ملاتړ هم تر لاسه کړي نوموړي د ښتانو ماتول هم یو نه بخښونکې جنایت وګاڼه خو هغه څه چې په خپله دده ګوند د مسلمانانو د یو لوی تاریخي جومات سره وکړل، بیخي له یاده وویستل، هغه جومات چې عملاً مسلمانانو پکې عبادت کاوه او له څلور سوه کلوراهیسې یې په لاس کې درلود. د افغانستان اسلامي امارت چې په هیڅ ډول هم د چا په کورنیو معاملو کې مداخله نه کوي او تل په سیمه کې د امنیت او ثبات غوښتونکې دی، دغه ډول خبرې په جدي ډول محکوموي او په هیواد کې یې د پردیو څرګنده لاس وهنه بولي، همدارنګه یو ځل بیا په کلکه دا غوښتنه کوي چې باید مغرض هیوادونه جګړه مارو ډلو ته د نظامي او اقتصادي مرستو له ورکولو ډډه وکړي او نور په افغانستان کې د لاس وهنې لپاره بهانې ونه لټوي .

مشوره د اسلام یو اهم رکن دی

محمد خلیل

مشوره دمومن یو غوره صفت شمیرلی شي . د آل عمران په سورة کې دمشورې حکم ورکول شوی دی :

ترجمه : اې نبي له هغوی سره پخپلو کارونو کې مشاورت وکړې یعنې هغوی هم په مشوره کې شریک کړې . په اسلامي ژوندانه کې مشاورت یو اهم رکن دی او له دې نه پرته ټولنیز کارونه سرته رسول نه یوازې جاهلي طریقه ده بلکې دالله جل جلاله د ښودل شوي ضابطې نه تیری هم دی . په اسلام کې مشاورت ته دومره اهمیت ولې ورکول شوی دی ؟ که پدې سوال غور وکړي شي نو درې خبرې په واضحه توګه زموږ مخې ته راځي .

لومړۍ دکوم کار اړیکې چې له دوو یا له دوونه زیاتو سړیو له ګټې سره وي په هغه کې دیوه سړي په خپلې رأیې فیصله کول له نورو سره ظلم دی په شریکو کارونو کې هیچا ته داحق نشته چې د خپلې رأی په مطابق فیصله وکړي . انصاف دادی چې څومره خلک په یو کار کې شریک وي له هغو ټولو نه رایې واخیستلې شي .

دوهم داچې یو سړي په شریکو کارونو کې خپله خوښه او خپله رأیه ددې لپاره تحمیلول غواړي چې خپل ځان ته ګټه او نورو ته نقصان ورسوي . یا داچې خپل ځان ډېر اوچت او نورشریکان حقیر وګڼي ، په اخلاقي توګه دادواړه کارونه بوشان بد دي .

دمؤمن له شان سره دانه ښايي چې هغه دنورو پر حقوقو تیری وکړي او خپل ځانته ګټه ورسوي او نه متکبر او ځان خوښونکی کیدای شي چې خپل ځان دهرچانه پوه او باخبره وګڼي .

دریم داچې په کومو کارونو کې چې نورخلک هم شریک دي او دهغوی ګټې او نقصان په دغو کارونو پورې تړلی شوي وي په هغه کې فیصله کول یولوی مسئولیت دی ، څوک چې له خدای نه ویریږي او په دې پوهیږي چې دالله په وړاندې به ددې ځواب خامخا ورکوي نو هغه کله هم په یوازې ځان دفیصلې کولو جرأت نشي کولی دا جرأت یوازې هغه څوک کولی شي چې له خدای جل جلاله څخه نه ویریږي او د آخرت فکر په زړه کې ونلري . له خدای نه ویریدونکي او په آخرت یقین لرونکي خلک خو خامخا دا کوښښ کوي چې ټول شریکان دې په مشوره کې راغونډ کړي ترڅو د ټولو رأیو په نتیجه کې یوه صحیح فیصله وکړی شي . او کـه بالفرض څه غلطي هم وشي نو مسئولیت یې یوازې په یوه سړي نه بلکې پر ټولو بوشانته پریوځي .

داداري دجوهات داسې دي چې

یوسړي ورباندې غور وکړي نو دهغه په ذهن کې داخبره ښه راتلی شي چې انسان ته چې اسلام کوم اخلاق ښایي مشوره هم ددې اخلاقو یو لازمي جز دی او له دې نه سرغړونه یوه لویه بد اخلاقي ده چې اسلام ورته کله هم اجازه نه ورکوي . داسلامي ژوند غوښتنه داده چې دمشاورت اصول ټولو ټولنیزو معاملاتو کې نافذ کړی شي .

دکور په معاملاتو کې باید ښځه او خاوند دواړه مشوره وکړي کله چې هلکان ځوانان شي نو هغوی دې هم په مشوره کې شریک کړی شي ، که دکلي او قبیلې خبره وي نو په هغه کې دې ټول عقل من او پوه خلک په مشوره کې شریک کړی شي . همدا

راز په قومي او ملکي مسائلو کې باید د ټولو وګړو درضا او خوښې په ذریعه یو اسلامي امیر مقرر کړی شي او هغه دې بیا دمسائلو دحل کولو لپاره دملت دهغو کسانو څخه مشوره واخلي چې درأی ورکولو اهل وي .

امیر دی ترهغه وخته پورې د امارت دنده اداکړي ترڅو چې ملت یې غواړي ، یو ایماندار شخص کله هم داتصورنشي کولی چې هغه دې په زور او جبر دملت سربراه او مشر جوړشي ددې تصور یوازې هغه څوک کولی شي چې په ایمان کې یې فرق وي .

وامرهم شوریٰ بینهم د پنځو خبرو غوښتنه کوي . لومړی داچې په اجتماعي مسائلو او معاملاتو کې باید ټولو اړوندو خلکو ته د رأی داظهار آزادي ورکړی شي او هغوی دې له دې خبرې نه باخبر وساتلی شي چې دهغوی مسائل څه رنګ حل کولی شي او کـه هغوی څه غلطي ووینې نو داحق ورته حاصل وي چې آواز پورته کړي او اصلاح راوړي .

دوهم د اجتماعي امورو دچلولو **لپاره قابل او مسؤول دخلکو دخوښې په نتیجه کې مقرر** کړی شي او دا رضامندي دجبر او فشار په ذریعه نه بلکې په آزاده فضا کې واخیستلی شي د یوه قوم صحیح مشر هغه وي **چې خلک یې په خپلې رضا او خوښې سره خپل مشر وټاکي . دریم دقوم مشر یا امیر ته دمشورې ورکولو** لپاره دې هغه خلک مقرر کړی شي چې دقوم ورباندې اعتماد وي او خلکو په خپله خوښه خپل نمایندګان ټاکلي وي . څلورم . مشوره ورکوونکي باید دخپل علم ایمان او دضمیر مطابق رایې ورکړي او هغوی ته درأی ورکولو پوره پوره آزادي وي .

پنځم : کومه مشوره چې د رأی خاوندان په یوه اتفاق سره تصویب کړي او یا اکثریت ورباندې اتفاق وکړي نو امیر ته په کار دي چې پر هغه عمل وکړي ځکه که چیری یو سړی یا یوه ډله د ټولو دمشورې له اوریدو نه وروسته بیا هم خپله خوښه کوي نو بیا دمشاورت هیڅ فایده نشته او دمشورې کولو الهٰی حکم نشي پوره کیدای .

داخبره دې په ذهن کې کېښودل شي چې دا شوریٰ دمسلمانانو دمعاملاتو په حل کولو کې بالکل آزاده او مطلق العنانه نه ده بلکې د الله پاک د دین په حدودو کې بنده ده دوی په هغو شرعي مسایلو کې مشوره **کولی شي چې دنص صحیح مفهوم څه شي دی او په دې څرنګه عمل کیدای شي لیکن په هغو معاملاتو او مسایلو کې مشوره نشي کولی چې الله او دهغه رسول ورباندې فیصله کړې وي .**

د دیوبند ستره علمي ټولنه او د اسلامي نړۍ وروسته پاتې حالات

عبدالقادر «صائب»

که څوک د اسلامي نړۍ په تاریخ کې د سترو علمي مرکزونو، د اسلامي علومو د پوهانو او اسلام ته د جهاد او علم له لارې د هڅو او خدمتونو یادونه کوي نو هرو مرو به د دیوبند دارالعلوم د یو ستر علمي مرکز په توګه یادوي او د اسلام د رشد او لوړتیا لپاره به د نوموړي مدرسې د لویو علمي شخصیتونو جهاد او علمي خدمتونه

داسې ارزوي چې د اسلامي نړۍ په راویښولو او پوهولو کې یې ستر رول لوبولی وي . په تیره بیا هغه کارنامې خو باید په زرینو کرښو ولیکل شي چې د بدعتونو او خرافاتو له منځه وړلو او سوچه اسلامي تعلیماتو په معرفي کولو کې یې ترسره کړي دي.

څو ورځې مخکې په پیښور کې د جمعیت العلماء اسلام په نوښت د دارالعلوم دیوبند د یونیم سل کلنو خدمتونو د ستاینې تر عنوان لاندې یو کنفرانس جوړ شوی و چې پکې د نړۍ له مختلفو برخو څخه یو غټ شمیر پوهانو ګډون کړی و د کنفرانس هدف دا و چې د اسلام په لاره کې د دیوبند د سترې مدرسې د خدمتونو یادونه وشي او له بلې خوا مسلمانان له خپلو وړاندې مسألو نه په ښه توګه خبر کړی شي او د نړیوال استکبار په وړاندې د یو موټي اسلامي امت ملا تینګه شي. د کتونکو په عقیده

پداسې بحراني حالاتو کې چې نن اسلامي نړۍ ورسره لاس او ګریوان ده او ددې بحران په له منځه وړلو کې کومه ځانګړې ستراتیژي هم وجود نه لري او مسلمانان د ژوند په زیاتو چارو کې د پردیو په تقلید کولو مجبور شوي د داسې غونډو جوړیدل ډیر ګټور او پر ځای کار دی او مسلمانانو ته ددې درس ورکوي چې دوی کـه د هر ځای او له هر قوم سره اړه لري باید په خپلو وړاندې مسئلو کې په ګډه فکر وکړي مسلمانان په اوس وخت کې که له یوې خوا په فزیکي لحاظ له تهدید او زور زیاتي سره مخامخ دي نو له بلې خوا په فکري لحاظ هم وروسته پاتې او دې ته نه پرېښودل کیږي چې لږ تر لږه په خپلو پېښو او مشکلاتو غور وکړي مسلمانان لا اقل پدې کې فکر نشي کولای چې دوی په کوم سلاح د چا له خوا وژل کیږي دا خو پریږده چې څرنګه خپل مسلمانان ورونه د نورو له تهدید څخه وژغورلی شي کـه په مختلفو نړیوالو او سیمه ییزو جنجالونو کې وکتلی شي نو لیدل کیږي چې هر چیرته مسلمان پکې تاواني او ځورول کیږي او د کفارو له خوا په نیستۍ سره تهدیدیږي د نړۍ

لوړتیا غوښتونکي قوتونه په تیره بیا امریکا او د هغه غربي اندیوالان په یوه او بله بهانه غواړي چې مسلمانان په هره برخه کې متزوي او تس نس شي، د ډلهییزو رسنیو په واک کې درلودو له لارې غـواړي چې د نړۍ خلک د مسلمانانو په ضد راوپاروي او له بله پلوه هڅه کوي چې د ملګرو ملتونو د تش په نامه سوله غوښتونکي سازمان له لارې د نړۍ پر سیاست او اقتصاد خپله ولکه ټینګه کړي نو په داسې دردوونکو حالاتو کې د دین د خواخوږو راټولیدل او د اسلامي نړۍ په ښېښو فکر کول په خپل وخت یو غټ اقدام دی.

د دیوبند علماؤ نه یوازې دا چې د هند په نیمه وچه کې د اسلام لپاره ستر خدمتونه تر سره کړل او په پای کې یې برتانوي استعمار دې ته اړ وېست چې خپله کمپله ورټوله کړي او د برتانوي سترې امپراطورۍ پر ځای په یوه وړوکې جزیره کې محصور پاتې شي بلکې هغوی داسې خلک وروزل چې د اسلامي نړۍ په اوسنۍ وروسته پاتې حالت کې هم د ښېرېم او لوړتیا د بیا ګټلو لپاره هلې ځلې

کوي او پر سلهاوو زره د علم او جهاد مرکزونه جوړوي او د اسلامي امت ستر لارښوونکي جوړیږي او د مسلمانانو په راویښولو کې زیار باسي.

تقریباً دوه نیم سوه کاله وړاندې چې د اسلامي نړۍ ستر عالم شاه ولي الله د هلوي د مسلمانانو د ویښولو او یو موټي کولو لپاره کار شروع کړ او له مسلمانانو سره یې د کفارو زیاتي ولیدل نو که له یوې خوایې د احمد شاه ابدالي غوندي سرتیري ته لیک ولیږه تر څو هغه د هندوانو له ظلم څخه د مسلمانانو د خلاصولو لپاره جهاد وکړي .

احمد شاه بابا لیک ته په ورین تندي لبیک ووایه او هندوانو او سکانو سره یې سخت جنګونه وکړل چې په نتیجه کې مسلمانان سر لوړي شول او کفار ذلیل او خوار و زار . نو له بله پلوه یې یو داسې علمي نهضت پیل کـړ چې وکـولای شي مسلمانان له دې وروسته پاتې حالت څخه راوباسي ددې علمي نهضت پایله دا شوه چې په هند کې یو داسې دیني حرکت او خوځښت منځته راغی چې د دین پر ټولو برخو باندې شامل و شیخ الهند چې د همدې سلسلې یوه کړۍ وه هغه

داسې شاګردان وروزل چې د تصنیف او تدریس له لارې ټولنې ته د خدمت سرچینه او د تبلیغ او د دین د عاملو لپاره یې ډیرې هلې ځلې وکړې .

نن سبا هم غرب او یول استعماري او استثماري قوتونه پدې پوه شوي چې یوازې هغه بالقوه ځواک چې کولای شي د دوی د نړیوال نظام په مقابل کې مقاومت وکړي هغه اسلام دی نو له همدې امله د نړیوال امنیت د ساتلو د مخدره موادو د مخنیوي او د بشر د حقوقو د ساتلو یا د ترهګرۍ د خطرونو د له منځه وړلو په پلمه د نړۍ د مسلمانانو د یوکیدلو مخه نیسي ځکه هم چیرته چې مسلمانان په خپلو مسائلو د غور کولو تابیا نیسي نو دوی نړۍ په شک کې اچوي او هغه موهوم خیالات ورته په یقین اړوي چې ګواکې هغه بالقوه ترورېزم اوس د عمل په ډګر کې مقابلې ته ملاتړلې او باید چې مخه یې ډب کړی شي.

د غرب ددې فرهنګي تیري له امله ډیر مسلمانان هم پدې مرض اخته شوي چې دا رنګه او دې ته ورته اصطلاحات وکاروي او ددې په ځای چې د مسلمانانو ارمانونه تمثیل کړي غرب ته د خدمت مصدر ګرځي چې پدې سره د علماؤ او اسلامي پوهانو نور کار ته هم اړتیا پیښیږي.

جهان ورزش

متصدي صفحه : استاد آرين خيبر

اخبار ورزشي

يكتن از ورزشكاران افغاني درمسابقه بوكس وفات يافت

احمد ضيا پوپل يكتن از ورزشكاران افغاني مقيم آستراليا درمسابقه جام قهرماني بوكسنگ كه هفته قبل شب جمعه درايالت ويكتورياي آستراليا تدوير يافت بـ اثر يك ضربه محكم به قسمت سرش وفات يافت. احمد ضيا پوپل ابتدا به حالت كوما به شفاخانه انتقال گرديد وبعد از ۳٦ ساعت بيهوشي وفات يافت. (ليس اينو) مربي احمدضيا پوپل اضافه نمودكه احمد ضيا پوپل قهرمان وزن ۵۲ كيلو گرام ايالت ويكتورياي آستراليا درچند سال اخير بود مذكور از ٦ سال بدينسو در مسابقات بوكس اشتراك مينمود ودرين مسابقه به اثر يك ضربه محكم وتصادم باپايه رنگ جان خود را از دست داد . مجامع بين المللي ورزش يكبار ديگر مسابقات وتمرينات بوكس راخلاف سپورت وصحت توصيف نموده وخواستار ملغي قرار دادن فدراسيون بين المللي ان شده اند خبر حاكيست كه بعد از وفات احمد ضيا پوپل كمربند قهرماني شهر ويكتورياي آستراليا براي حريف اش تحويل داده شد .

بوكس :

مايك تايسن قهرمان سنگين وزن بوكس جهان چندي قبل حين ملاقات بازوربالستان اظهار داشته است كه براي يك مسابقه جالب باحريف انگليسي خود آمادگي گرفته است .

مذكور اظهار داشته است كه بعد از پيروزي در مسابقه متذكره كه ماه آينده عيسوي در امريكا داير خواهد گرديد باجهان بوكس وداع خواهد كرد .

كاراته :

به اساس پلان و پروگرام مرتبه المپيك وفدراسيون كاراته كشور امتحانات بخاطر ارتقاء كاراته كاران كشور به كمربندهاي نصواري سياه وبالاتر از آن روز جمعه ۱۹ محرم الحرام در كلپ ورزشي مهر تحت نظر استاد محبوب سروري رئيس فدراسيون كاراته كشور درسبك هاي كيوكوشين وشوتو كان تدوير يافت .

فوتبال :

هفته قبل ٤۳ نفر در اثر ازدحام در مسابقات فوتبال كه بين دوتيم مشهورافريقاي جنوبي داير گرديده بود جان خود را از دست دادند . مقامات ورزش افريقاي جنوبي اظهار داشتند كه پوليس بخاطر نظم وجلوگيري از ازدحام هيچ گونه تدابير لازم را اتخاذ نكرده بودند باز پرسي از تمام مسئولين امنيتي مسابقات مذكور جريان دارد .

په انگلستان كى افغانى تكواندو كارانو د مانچستر د اتلوالى جام وگاټه

په بريتانيا كى دافغانستان د تكواندو ټيم چى دمحترم استاد محمد يوسف دلدار تر مشرى لاندې فعاليت لرى په دى ورستيو وختو كى يې د اروپايى هيوادونو دتكواندو د سياليو جام گټلى.

دغه سيالى چى د اروپايى هيوادو دتكواندو د ۲٤ ټيمونو ترمنځ وشوى دافغانانو دتكواندو ټيم د ۱۲ مډالونو په اخيستو سره لومړى مقام گټلى . شاغلى محمد يوسف دلدار چى دافغانستان دتكواندو دفدراسيون بنسټ ايښودونكى دى اوس اوس د اروپا دتكواندو دټولنى مشرى په غاړه لرى . د نوموړى دغه راز لاس ته راوړنى زموږ دهيواد ورزش او په ځانگړى توگه رزمى كارانو ته ستر افتخار دى

عبدالمتين خادم

ابلاغيه آمريت دعوت وارشاد كميته تربيت بدنى وسپورت امارت اسلامى افغانستان !

به عموم استادان ومسئولين محترم كلپ هاى آزاد ورزشى شهر كابل :

طوريكه ملاحظه ميگردد وهمچنان به اساس شكايات تحريرى وتقريرى ورزشكاران محترم مقيم كلپها مبنى بر اينكه در جريان تمرينات ورزشى ايشان در مراكز وكلپ هاى ورزشى بعضي از اشخاص بيكار ، غير مسئول و آنهائيكه با استفاده ازنام طلباى كرام داخل كلپ ها ميگردند . وبا انداختن غالمغال وخنده هاى بى جا باعث آزار واذيت ورزشكاران وبى نظمى سپورتى ميگردند . بناءً اكيداً هدايت داده مى شود كه از داخل شدن اشخاص نظاره كننده در داخل تمام جمنازيوم ها مراكز ورزشي وكلپ هاى آزاد كه باعث بروز نهيات ولهويات ميشوند و عملاً منكرات را دامن ميزنند جداً خود دارى نموده درصورت تخلف با مسئولين كلپ ها طوريكه حكم شرع شريف است برخورد قانونى صورت خواهد گرفت هكذا قابل ياد آوريست در قسمت اقامه صلوة تمرين تعطيل گرديده نماز باجماعت اداگردد . درصورت بروز مشكلات ورزشكاران مى توانند به وزارت امر بالمعروف ونهى عن المنكر و به گروپهاى سيار امـــريت دعوت وارشاد تربيت بدنى در تماس شوند .

غرور وخود خواهى از ديدگاه استاد بروسلى بنيانگذار هنر رزمى جيت كان دو

غرور شمشير دولبه است . مغرور بودن بخاطر مهارت ها ، موفقيت ها وسرانجام قهرمانى درهنرهاى رزمى يك طرف مسئله است اما غرور زياد ميتواند بينش شما را تار و تيره كند وشما رابه گودال ناكامى وسر افگندگى بياندازد . واين چيزى است كه هنگام كشف حقيقت آن را بايد در بست بپذيريد .

خود خواهى نتيجه غرور زياد است . وهدف آن ضربه زدن به انگشتان پاهاى تان بواسطه تيشه ، بناء **(تكبر)** جهت نابود ساختن شماست وبس .

آرى ! وقتى كه از هر چيز كامل هستيد واحتياجى براى آموختن چيزى ازكسيكه شمارابه سكوى قهرمانى وموفقيت رسانده است نداريد ، ديگر فكر كنيد كه **(هيچ)** هستيد وبزرگترين غرور وخود خواهى ايستاد شدن در جاده **(بى پاسى)** بخاطر مقابل شدن در روى استاد تان است .مى دانى ؟

پشت بازوهاى عضله يى وبزرگ راهنمايى براى تضمين پيشرفت شما

همه دلشان ميخواهد بازوان بزرگ وزيبايى بسازند امامشكل اينجاست كه افراد تشخيص نمى دهند كليد دسترسى به چنين بازوانى كار بر روى عضلات پشت بازو است . در واقع مردانى كه داراى بازوان لاغرى هستند وميخواهند آنها را رشد دهند در اغلب موارد قسمت اعظم تمرينات بازو را به عضله جلو بازو اختصاص ميدهند . درحاليكه واقعاً آنچه انها نياز دارند افزودن به حجم بافت عضلاتى پشت بازوان است . در بيشتر اوقات گفته ميشود كه عضله پشت بازو بايد دو بر سه حجم عضلات بازو را تشكيل دهد به همين سبب عضله جلو بازو كه كوچكتر است بايد بيشتر مورد توجه قرار گيرد . قاعده، كلى براى ساخت و پرورش عضلات بازو وجود دارد و آن اين است كه به هرحركت جلو بازو ، بايد دو حركت پشت بازو انجام شود . باوجود اين بيشتر بدنسازان خلاف اين قاعده را عمل ميكنند ومتعجب اند كه چرا شكل مطلوب را بدست نمى آورند . همچنان عدم شناخت وغفلت اشكار از عضله پشت بازو باعث مى شود كه بسيارى از وزنه برداران درين قسمت بدن هيچ پيشرفتى نداشته باشند چراكه آنها وزن زيادى را به ميله هالتر اضافه ميكنند . آنها با استفاده از وزنه هاى فوق العاده سنگين كه باعث حس قريب خوردگى ميشود فشار رابه ديگر عضلات وبالخصوص سرشانه (دلتوئيد)وارد ميكنند . وبدتر از آن اينكه ، در اغلب مواقع آرنج اين ورزشكاران صدمه ديده وخراب ميشود .

وبه اين ترتيب امكان پرورش توده عضلاتى پشت بازوى مورد نياز آنها تقريباً به (هيچ) تقليل ميابد . مسأله ديگر تمرين بيش از حداست بخصوص در حركت خوابيده روى بينچ پرس پشت گردن روى سطح نشيب دار وتمرين پشت بازو (ديپ) روى پارالل ويا بين دونيمكت . اگر مى خواهيد اين حركات سنگين را ادامه دهيد بايد كمى از بار وزنه هاى روى پشت بازو را كم كنيد . حركت را هر دور بيشتر تكرار كنيد ويا براى پر كردن عضله از خون زياد وايجاد حالت انفجارى ان ، از تمرين حركت درست هاى بيشتر يا سوپرست استفاده كنيد . براى رشد عضله پشت بازو مجبور نيستيد ست هاى تمرين زيادى را انجام دهيد ، بلكه بايد كار را درهمان ست هاى مخصوص وتنظيم شده باشدت بيشترى پيگيرى كنيد . يكى از مسايل بغرنج در تمرينات پشت بازو ها تفكيك عضلات است . به خاطر داشته باشيد كه اين عضله داراى سه سرمجزا ازهم است سر دراز ، سرعقبى وسر جانبى و اگر بخواهيد در پرورش پشت بازو شكل زيبا ومطلوب نعل اسپى را به آن بدهيد بايد روى هر كدام از سرها به طور مستقيم كار كنيد . حال اگر تمرينات را به ويژه در حركت پشت بازو بايك ژست خيلى سنگين اجرا كنيد تفكيك هر سه عضله ممكن نخواهد شد . همچنان شما كه دلتان نميخواهد به علت حركات انفجارى حاصله از اين تمرين ، خطر صدمه وسر بريدگى مفصل ارنج را به جان بخريد اين كار بى ترديد طرحهاى شمارا براى داشتن بازوان زيبا وعضله يى نقش بر آب كرده وحتى ممكن است باعث پايان حرفه بدنسازى وبازيبايى اندام تان گردد .

بايد احساس كنيد كه عضلات پشت بازو در طول دامنه، حركتى كامل ، تحت كشيدگى يكنواختى قرار ميگيرد .

از آغاز تمريناتم تا كنون در ۳۷ مسابقه اشتراک نموده ام

محترم عيد محمد زره ور

علاقمندان محترم ورزش ! خبرنگار اعزامى ما به ولايت ننگرهار اينبار مصاحبه، را بامحترم استاد عيدمحمد زره ورمسئول كلپ ورزشى تكواندوى زره ور انجام داده است كه شما عزيزان را به خوانش آن فرا ميخوانيم .

سوال : لطفاًخود را مفصلاً معرفى نموده هكذا درمورد چگونگى آغاز ورزش وسابقه ورزشى تان معلومات مفصل ارائه داريد ؟

جواب : نامم عيدمحمد زره ور است در سال ۱۳۵٦ در ولايت پكتيا تولد گرديده ام حينيكه متعلم ليسه فارم هده ولايت ننگرهار بودم در سال ۱۳۷۱ تحت نظر استاد ميرويس اكبرى به فعاليت هاى ورزشى خود آغاز نمودم والى احراز كمر بند سبز تمرينات خود را تحت نظر موصوف به پيش بردم . چون استاد ميرويس اكبرى نظر به مشكلات و پرابلم هاى كه داشت از ورزش فاصله گرفت بناءً نظر به شوق وعلاقه مفرط كه به تكواندو داشتم تحت نظر استاد عبدالمالك عادل درسال ۱۳۷۳ تمرينات خود راادامه داده و الى احراز كمر بند سياه دان ۲ نزد استاد مالك تمرين نمودم . فعلاً سرپرستى و مسؤ ليت كلپ ورزشى تكواندوى زره ور را در ولايت ننگرهار به عهده دارم .

سوال : از آغاز تمرينات ورزشى تان تاكنون در چند مسابقه تكواندو اشتراك نموده ايد و دست آوردهاى ورزشى تان چيست ؟

جواب : از آغاز تمريناتم تاحال تقريباً در ۳۷ مسابقه تكواندو اشتراك نموده ام و تاكنون باخت ندارم دست آوردهاى ورزشى از مسابقاتم يك ديپلوم قهرمانى وزن سوم درسال ۱۳۷۱ سه ديپلوم قهرمانى وزن چهارم از سال ۷۳-۷٦ در سطح ولايت ننگرهار ، پشاوروهرپور چهار مډال كه از جمله يكى آن نقره است . سه عدد كپ افتخارى وغيره ميباشد .

سوال : فعلاً چند نفر شاگرد داريد چند تايم تمرين ميدهيد ؟

جواب: درحال حاضربه تعداد سه صد تن ورزشكار را درچهار تايم تمرين ميدهم واز نظر كميت پرنفوس ترين كلپ ورزشى در سطح ولايت ننگرهار كلپ بنده ميباشد .

سوال : لطفاً درمورد ورزش تكواندو معلومات مفصل ارائه داريد ؟

جواب : تكواندو نام هنر رزمى كوريايى هاست كه فعلاً از جمله ورزش هاى بين المللى شامل مسابقات المپيكى بشمار ميرود . وعملاًتوسط دو فدراسيون مجزا I.T.F و W.T.F اداره ميگردد . كه فدراسيون W.T.F يا فدراسيون جهانى تكواندو درسطح بين المللى رسميت داشته وهشت سبك جداگانه تكواندو (8 كوان) را اداره ميكند كه خوشبختانه فدراسيون تكواندوى افغانستان نيز در فدراسيون جهانى تكواندو W.T.F به اساس سعى وكوشش پيگير استاد محمد يوسف دلدار ثبت وراجستر گرديده است .

سوال : به كدام رشته رزمى وكدام يك از اساتيد برجسته رزمى علاقه داريد .

جواب: به تكواندوى جيدوكوان به عنوان (كوان بين المللى) و ورزش مدرن رزمى درسطح جهان علاقه دارم . وكار استاد چونگ لى را دربين تمام رزمى كاران جهان وكار استاد گرانقدرم عبدالمالك عادل را درسطح افغانستان مى ستايم .

سوال : رمز پيروزى تان چيست وممتازترين شاگردان تان را معرفى نمائيد ؟

جواب : احترام به اصول اساسى سپورت ، تواضع وشكستگى ، احترام استادم وتمام بزرگان بياد داشتن تمرينات نخست ام را به عنوان شاخص ها ورموز پيروزى هاى ورزشى ام ميدانم .خلاف تمام رسوم ورواج كلپ ها وانجمن ها از تمام شاگردان قهرمانم خاطره خوش دارم وتك تك آنها از كمربند سفيد الى سياه در جمله ممتاز ترين كسانيكه نام پرافتخارشان مايه سربلندى و سرور برايم ميشود به حساب ميآورم ، اميدوارم كه تمام رزمى كاران به استادان خود احترام قايل شوند ! قبلاً نخستين تمرينات خود را در نزد آموزگار در نظر داشته واز غرور وبى پاسى كه ايشان را برباد خواهد كرد دورى نمايند بى شك كه همه آنها قهرمان خواهند شد

يون ليک : لوږې او ږوږې ٥

طبيب محمد نذير «احمدزى»

حكومت ټولى شاړى ځمكى دسيندونو ، كاريزونو اوياد ژورو څاگانو په واسطه خړوبى او پربى ځمكو خلكو بى وويشى دوهم داچى حكومت ټولى شاړى سلطانى ځمكى پربى ځمكو خلكو وويشى تر څو آبادې شي او دريمه لا دا ده چي حكومت نوموړي ځمكي د سيمي پر شتمنو خلكو وويشي چي وروسته تر ودانيدو نيمه يې نوموړو ودانوونكو ته پرېښودل شي او نيمايى نوره يې دحكومت له لورى د سيمى پربى وزلو اوبى ځمكو خلكو وويشل شى زما په خيال په دغو دوو لومړيو لارو كې به داقتصادي كمزورتيا له امله څه ستونزې موجودې وي خو دريمه لاره په فعلي شرايطو كې غوره لاره ده او كه لږ څه هڅه وشى كيداى شى چي په هره سيمه كى داسي شتمن هيوادوال وموندل شى چى په پورتنيو شرطونو دشاړو ځمكو دخړوبولو او ودانولو په ډگر كى موافقه ولرى اوله امارت سره يوى گټورې پريكړې ته ورسيږي او ژر ترژره په دى هكله عملي هڅې پيل شى په دى توگه كيداى شى چى دهيواد په گوټ گوټ كى د ځمكو د ودانولو له لارى خپلى كرنى ته وده وركړو او د كرنيزو حاصلاتو د زياتوالى او بهر ته د ليږدولو له لارى پوره پيسى تر لاسه كړو چى په صنعت او عصرى تكنالوژى كى بنه پرمخ ولاړ شو او په دى توگه د تكنالوژى په ډگر كى سيالانو سره سيال شو . په همدى سوچونو كى شيخ اباد او بيا د سيداباد سيمى ته ورسيدو دلارى دواړو خواوو ته د دينى او عصرى مدرسو دارالحفاظونو او پرمختيايى پر وژو د ودانيو او سرلوحو ليدلو ماته هغه كيسى پوره رښتيا كړى چى په يوه مجلس كى مى د يوه سپين ږيرى پوه له خولى د وردگو په هكله اوريدلى وى هغه ويلى چى د تيرى عيسوى پيړى د دوهمى نيمايى په سر كى يوه غربى څيړونكى په ټوله نړى كى تر څيړنى وروسته اعلام وكړ چى گرده نړى كى د ډير قوى دماغ خاوند انسان دافغانستان د وردگو دشنو درو خلک دى . كـه څه هم بيوزلى او دهغى زيږنده ستونزو وردگ يو څه دخلكو دخبرو گرځولى د خو په وروستيو كلونو كى دعمر وردگ ، قيوم وردگ او داسى نورو شخصيتونو په منځته راتگ سره د وردگو ځوانانو مخه له بزگرى او كاريز كيندلو څخه دحكومتى چاروموډرسو ، پوهنتونونو او دعلم او پوهى مركزونو ته واوښته او ن ورځ گوره چى د هيواد د پوهنتونونو تر ټولو زيات محصلين وردگ دى او تر ډيره لايقه هم دى د وردگو د مشرانو اوسنى دريځ او د علم او پوهى په ډگر كى دهغوى بى سارى مينه او ليوالتيا ما په دى خبره قانع كوى چى په بوږو دوو لسيزو كى به د هيواد دعلمي او څيړنيزو ځانگو څيړندويان او دساينس او تكنالوجى مخكښان دوردگو ځوانان وى او د دوى دغى ډيرى علم خوښونى ته چى گوره نو ملامت به نه يم چى د وردگو سيمى ته د پوهى او پرمختگ زانگو و وايم زه خو وايم كاشكى زموږ دهيواد دټولو سيمو مشرانو دخپل را تلونكى نسل سوكالى په علم او پوهى كى تغښتى ليدلى او د دى پر ځاى چى نوى زلميان په بزگرى سوداگرى او يا بهرنيو هيوادونو كى په غريبى سپين ږيرى كړى دهغوى پام بى دعلم او پوهى ډگر ته را اړولاى واى او دخپلو كليو له جوماتونو او مدرسو څخه بيا تر پوهنتونونو پورى بى دخپلو بچيانو علمى روزنه خپل مسئوليت او دنده گڼلى واى بده به نه وى چى زموږ دهيواد نور وگرى په دى هكله له وردگو څخه يو څه زده كړى او خپل نوى نسل په هيواد كى ديوى سالمى سيالى لپاره وروزى تر څو ددى علمى سيالى له بركته هيواد مو پرمختگ وكړى او له را چاپيره ستونزو څخه ورو ورو خلاصون وژغورو لنډه داچى د ښيز روغتون ته چى د سيداباد او سالارو ترمنځ ښـرک ترڅنگ پروت دى ورسيدو هلته د لجنة الدعوة الاسلاميه خيريه موسسى لخوا يو سمبال او عصرى روغتون ودان او په خدمت بوخت و د وردگو دمشهور عالم د يوسف خيلو د آخند زاده صاحب زوى چى ډاكټر و د روغتون مشرى يې په غاړه در لوده دغه پل ورور هم همدغلته د طبيب په توگه په خدمت لگيا و دغه دوه طبيبان وروڼه ښه دينى عالمان هم و موږ ته يې د ماسپښين لمونځ راكړ دغه جامع او په تجويد ښه برابره دعامى ډيره خوښه شوه او له ځان سره مى ويلى چى په رښتيا هم ديوسف خيلو آخند زاده صاحب مرحوم د ستر بركت څښتن عالم و زامن يې هم دينى عالمان او هم ډاكټران دى هر پلار دى داسى زامن وروزى ، كه څه هم شكر الحمد لله موږ په خپله هم د لوى خداى له مهربانۍ او د پلار د خاصى پاملرنې نه بركته پنځه واړه وروڼه ډاكټران يو خو ديوسف خيلو د آخندزاده صاحب د زامنو د دينى علم او عصرى طبابت ورتياوو ماته هم ځان لږ كم بـكاره كړ ، موږ ته يې د ماسپښين په دوه نيمو درى بجو كى ښه دودى تياره كړه ښه پښتونولى او ميلمه پالنه يې وكړه وروسته تر هغه مو د روغتون بيلابيلى ځانگى وكتلى ښه دجراحى مجهزه دعمليات خونه ، دښځينه ناروغيو مجهزه ځانگه ، دنرى رنځ د ناروغى دتشخيص آسانتياوې د داخله ناروغيو شل بستريز سرويس داهغه څه ؤ چى د كابل ښار تر ځينو روغتونونو يې نوموړى روغتون سمبال او پرمختللى ښكاره كاوه . نور بيا

داوبو او برېښنا وزارت ...

د هیـــأت طرحي د برېښنا رسولو د سالمي اداري د جوړولو په مقصد وڅېړل شوي او وپتیل شوه چي دغــــه طرحي دي د زیاتي لارښوونې په مقصد محترمي اقتصادي شورا ته وړاندي شي.

په دي غــونډه کي د کـجکي د اوبو برېښنا د توربینونو د ترمیمولو او د وردگو د چک ولسوالي د برېښنا رسولو د پروژې د کار د چټکتیا په خـــــاطر اړوندو ځانګو ته لازمي لارښووني وشوې.

حماس له ...

باندي ټینګار وکړ.

شـــیخ احـــمـــد یاســـین له مطبوعاتو سـره د مرکي په ترڅ کي څرګنده کـــړه چي د اســـرائیلو د صهیونیستي رژیم برغلګر سیاست به د فلسطین د مقاومت په عزم او ارادي باندي اغیزه ونه کړي.

ده د اسرائیلو د دولتي تروریزم سیاست ته په اشاري سره زیاته کړه تل ابیب د فلـسطین د خلکو پر خلاف ټول جنګي وسایل کارولي دي او یوازي له اتومي بمونو څخه یې استفاده نه ده کړي. ده زیاته کړه د فلسطین ملت باید په ټینګ عزم او میراني سره دصهیونستانو د تیري په وړاندي مقابله وکړي.

اعلانات

فقیـر محمد فرزند غلام جان یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه دهم را بالاي شیرزي فرزند عبدالغني بفروش میرساند . اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

فضل احمد فرزند عطا محمد یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه چهارم را بالاي سحرګل فرزند حضرتګل بفروش میرساند . اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

محمد کبیر فرزند نور محمد یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه پانزدهم را بالاي محمد هارون و خالد ولدان شیرګل بفروش میرساند اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

عبدالواحد فرزند فیض محمد یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه پنجم را بالاي حاجي میر آغا فرزند حاجي عبدالغني بفروش میرساند اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

عبدال امین فرزند آقاشیرین وکالتاً یك در بند حویلي ملکیت محمد اسماعیل فرزند عبدالکریم واقع ناحیه پانزدهم را بالاي شاه محمد فرزند امیر محمد بفروش میرساند . اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

حمزالله فرزند میر حمزه یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه چهارم را بالاي مهر علي فرزند حاجي عبدالعلي خان بفروش میرساند . اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

عبدالمحمد فرزند عبدالقدوس وکالتاً یك در بند حویلي ملکیت گلوم فرزند سید مجید واقع ناحیه دهم را بالاي عبدالمجید فرزند رجب علي بفروش میرساند. اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

محمد افضل فرزند بهادرالدین یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه پانزدهم را بالاي حاجي خیواه جان فرزند حاجي غازي میرجان بفروش میرساند اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

* * *

عبدالقیوم فرزند غلام نبي یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه پانزدهم را بالاي میوند فرزند سید محمد بفروش میرساند اشخاص و موســـاتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

از طرف ښاروالي ژنیو

هر کدام آن براي سه صد هزار نفر آب صحي آشامیدني را تهیه میدارد معلومات ارائه نموده گفت : این واتر پمپ ها بطور نمونه بوده و در آینده این پروسه توسعه خواهد یافت .

دراین ملاقات محترم مولوي محمد قاسم ناصري معین ساختماني نیز حاضر بود هیأت متذکره پول معارف یکساله دارالایتام واقع علاوالدین و ادویه جات لازم را به شفاخانه ملالي زیژنتون رابعه بلخي و شفاخانه اطفال غرض مساعدت با خود آورده است .

این هیأت در سال گذشته نیز به کابل سفر نموده بود بازدید مجدد هیأت متذکره بیان این حقیقت است که کشور سویس و بصورت اخص ښاروالي شهر ژنیو آرزو دارد با انجام مساعدتهاي لازم زمینه هاي توسعه مناسبات احسن با امارت اسلامي افغانستان از طریق ښاروالي کابل را فراهم سازد

طبق یك خبر دیگر هیأت متذکره دو روز قبل تحت ریاست وون هارکس ور نن ان میري معاون ښاروالي شهر ژنیو و عضو پارلمان آنکشور وارد کابل گردیده است .

د عراق هوایي...

امریکایي او انګلیسي الوتکو د عراق په جنوب کي ملکي سنګرونه وویشتل . د دغو متقابلو ډزو له امله د سرزیان ندی اوښتی . د امریکا د متحده ایالاتو او د انګلستان الوتکي له ۱۹۹۱ میلادي کال راپدیخوا په پرله پسي توګه د عراق په شمال او جنوب کي په اصطلاح د ممنوعه سیمي د پاسه ګزمي کوي. د عراق حکومت د الوتني دغه په اصطلاح ممنوعه سیمه په رسمیت نه پیـژني او په هغې کي د لویدیځ د الوتکو لخوا ګزمه په خپلي خاوري باندي تیري بولي.

د بم د چاودني

پروګرام پکي اجرا شي رامنځته شویده . دغه چاودنه د بنګله دیش د حکومت د مخالفو ډلو د یو لړ مظاهرو په درشل کي شویده . په بنګله دیش کي د حکومت مخالفي ډلي له ټاکلي مودي څخه مخکي په دغه هیواد کي د پارلماني انتخاباتو د تر سره کولو غوښتنه کوي.

یك ائتلاف جدید ...

مسعود در قبال تزویج هاي نفوسي چون زمان حکومت آنان در کابل وسیعاً شیوع نموده آنان از فقر و گرسنگي مردم به شکلي از اشکال به نفع خویش استفاده میبرند. البته درمقابل شماري از مجاهدین اصیل و پاك طینت که تا حال در آنطرف جبهات مانده اند نسبت به این روش قوماندانان سخت اندوهگین بوده، و هر آن در کمین تسلیمي با نیرو هاي امارت اسلامي بسر میبرند، گذشته از این تشنجات و بي ثباتي در صفوف مخالفین باعث این گردید که چندي قبل رباني، سیاف و جنرال فهیم صریحاً مخالفت شان را با مسعود اعلام نموده و براي یك ائتلاف جدید آستین برزده اند .

د هرات ولایت ...

مرستي ۱۷ تیم ته غنم او د آی آر سی د دفتر د مرستي دري زره څلور سوه پنځوس ټني بوشکي شته چي د موظف هیأت لخوا د هرات ولایت د شیدایي په کمپ کي په میشتو مهاجرینو باندي ویشل شویدي. د یوه بل خبر له مخي د سویس ایټالیا ، فرانسي ، او د هالند د هیوادونو د ژورنالستانو یوي ډلي پرون د هرات ولایت په کمپونو کي د میشتو مهاجرینو حالت وکوت . دیادوني وړ ده چي له مهاجرینو سره دغه شان مرستي او د هرات په ولایت کي د مهاجرینو د کمپونو لیدني کتني پخوا هم شویدي خو د مهاجرینو د شمیر ،د خوراکي موادو د کمښت ، د اپښوګني د ځایونو او درملو د نشتوالي او د هوا د سړښت له په پام کي نیـولو سره پخواني مرستي کافي ندي او سره له دي چي پخوا هم ژورنالستانو او د نړیوالو خیریه موسسو او سازمانونو د دفترونو استازو د مهاجرینو خراب حالت کتلي دي خو له بده مرغه لازم او عملي اقدامات ندي شوي او زموږ څو د پاسه یو سلو شل زره مهاجر هیوادوال د خوراکي موادو درملو او د کورونو د نشتوالي او کمښت او د هوا له سړښت سره سره په خراب حالت کي خپل ژوند ته دوام ورکوي او هیله لري چي لازمي مـرسـتـي ورته ورسـول شي. دردوونکي داده چي هره ورځ یو زیات شمیر ښځي ماشومان او بوډاګان د خوراکي موادو د کمښت او په دغو کمپونو کي د لازمو ښري خدمتونو د نشتوالي له امله په حق رسیږي .

د سوداګري ...

اتاقونو د لوی ریاست په مقر کي جوړه شوي وه . د ملي سوداګرو او پانګه والو وړاندیزونه طرحه شول او له غور او خپرو اترو وروسته د سوداګرو لپاره د اسانتیاوو د برابرولو په مقصد په بیلا بیلو مواردو کي لازم تصمیمونه ونیول شول .

له مزار شریف ...

سره او ۱۲۰ ټنه یې فاسفیت لرونکي سره د ده د پنځو سوو بار وړونکو وسایطو په واسطه پرون د مزار شریف له ښار نه کابل ته راورسیده . دغه سره د کابل د ګمرک په ساحه کي د کرنې او مالداری وزارت په ګودامونو کي چي د اته زرو ټنو ظرفیت لري ځاي پر ځاي شوه . د کرنې او مالداري وزیر محترم ملا عبد اللطیف منصور د دغه کاروان د خالي کولو بهیر وکوت او په دي اړوند یې چارواکو ته ګټوري لارښووني وکړي . د کرني او مالداري وزارت یوه خبـر ځاي وویل په پلان کـي دي چي څلوېښت زره ټنه کیمیاوي سره د مزار شریف له ښار څخه د هیواد مرکزاو ولایتونو ته ولیږدول شي چي دري سوه پنځه شپیته ټنه یې تر اوسه پوري کندهار ته لیږدول شویده دغه سره به په نږدې راتلونکي کي د هیواد په مرکزاو ولایتـونو کي د دغـه وزارت د نمایندګیو له لاري په امارتي بیـه په بزګرانو باندي وپلورل شي.

جشن مذهبي

سکهـ ما هر سال این روز مذهبي خوشرا گرامي داشته و از آن به شکل دسته جمعي در کلیه درمسال ها طي مراسم پرشکوهي باددهاني به عمل مي آورند.

در جشن روز شنبه در درمسال کارته پروان بشمول مسؤلین امارتي، نمایندګان سفارت پاکستان مقیم کابل و برخي از مسولین موسسات خیریه خارجي حدود ۶۰۰ تن از هموطنان اهل هنود و سکهـ اعم از طبقه ذکور و اناث نیز اشتراك ورزیده بودند.

محترم اوتارسنګهـ نماینده اهل هنود و سکهـ در افغانستان پیرامون چګونګي برګزاري جشن دیروزي ویساك در درمسال کارته پروان به خبرنګار ما چنین اظهار داشت :

از آنجائیکه امروز اقلیت هاي مذهبي در افغانستان نسبت به رژیم هاي قبلي از حمایت و توجه خاص برخوردار بوده، در پرتو همین خط مشي ما توانسته ایم تا هر سال مراسم مذهبي خویش را در فضاي نهایت مطمئن و قابل قبول در مرکز و ولایات کشور باددهاني نمایم.

البته امروز تسهیلات را که درین زمینه مسؤلین امارت اسلامي براي طبقه اهل هنود و سکهـ در کشور فراهم نموده است از هر حیث قابل قدر بوده، ما هم از این روش نیك استقبال نموده هر آن در موضع خدمت وحمایت از مردم و امارت اسلامي قرار داریم.

وي افزود : امروز بیشتر از ۲۵۰۰ تن از اهل هنود و سکهـ بشمول کابل در شهر هاي غزني، جلال آباد، خوست، کندز، لشکرګاه و کندهار مقیم بوده که با گذشت هر روز بر این تعداد زیاده میګردد : این درحالیست که تا ده سال قبل کمیت این طبقه در مجموع افغانستان قریب به یکصد هزار نفر میرسید؛ هکذا امروز ٦٤ درمسال مذهبي در سطح کشور وجود داشته که در آنها مراسم مذهبي ما بدون کوچکترین تشویش طور آزادانه برګزار میګردد.

مهربان

کشور چین امریکا

متحده امریکا و چین قرار است روز چهارشنبه در مورد حادثه تصادم یك طیاره جنګي چین با طیاره جاسوسي امریکا در بحیره چین مذاکره کنند.

در شبرغان ...

با دستګاه کمپیوتري مجهز میباشد تسهیلات فراواني براي تشخیص امراض فراهم ګردیده است .

در فلسطین ...

صهیونیست طرح خصمانه و غیر عادلانه خود را براي تشکیل دولت مستقل فلسطین اعلام میدارد طرح که با مخالفت شدید فلسطینیها مواجه شده است .

ترکیه برنامه...

این بحران اقتصادي در نتیجه اختلافات میان صدراعظم فعلي و رئیس جمهور کشور روي پالیسي اقتصادي ترکیه به میان آمده است .

الحمدلله فعلاً در ولایت بامیان ...

الحمدلله در تمام نقاط ولایت بامیان چه در مرکز و چه در ولسوالي هاي پنجاب و ورث، کهمرد و سیغان و غندك و سایر نقاط آن تأمین بوده ، هموطنان ما در جریان قرار دارند که چندي قبل از طریق رسانه هاي خبري پروپاګندي کشور هاي مغرض و کفري، خبري مبني بر تصرف بامیان توسط مخالفین ا.ا.ا پخش ګردید. باید بګویم که مخالفین صلح و ارامش با عبور از مناطق صعب العبور از استقامت ولسوالي یکاولنګ که قبلاً هم این ولسوالي توسط مردم مجاهد و مخلص منطقه اداره میشد ، مخالفین به شکل رهزنانه از مسیر دره صوف به این ولسوالي حمله ورشده و با استفاده از سردي هوا و بند بودن راه ها توانستند تا نزدیکي هاي مرکز، پیشروي نمایند، صرف در مرکز مدت دو روز نیرو هاي امارت اسلامي عقب نشیني تاکتیکي انجام دادند که بعد از دو روز عملیات علیه آنها آغاز شد و در نتیجه تلفات و شکست مفتضحانه نا ګزیر به فرار از مرکز به کوه هاي یکاولنګ ګردیدند.

وي اضافه میکند : طي مدت دو روزیکه آنها در مرکز باقي ماندند دست به چپاول اموال مردم و مواشي زدند مواد غذایي و لباسهاي ساکنین آن محل را به سنګر هاي خود انتقال دادند، بالاي خانه ها اعاشه ګرم حواله نمودند ، به اشکال مختلف تفنګ بدستان بالاي مردم به ظلم و تعدي پراختند فعلاً الحمدلله امنیت مطمئن در ولایت بامیان تأمین است، در همه ولسوالي ها و مرکز آن پرسونل ریاست استخبارات ولایت بامیان در هر ګوشه و اطراف این ولایت بخاطر پیشبرد وظایف مشخص شان در راستاي تأمین امن و نظم صرف مساعي مي نمایند و به همکاري سایر ارګانهاي امنیتي و نظامي توانسته اند آرامش مطمئن را در محلات مختلف این ولایت تأمین نمایند منسوبین ریاست استخبارات ولایت بامیان پلانها و دسایس مخالفین صلح و آرامش مردم شریف بامیان را دقیقاً ردیابي نموده و به وقت و زمان آن خنثي مي نمایند که در ین زمینه همکاري مردم مجاهد و متدین این ولایت با مسؤلین امنیتي خیلي موثر بوده است .

محترم رئیس استخبارات ولایت بامیان پیرامون چګونګي موثریت مداخلات کشور هاي بیروني در تحرکات مخالفین که قبلاً در ولایت بامیان صورت پذیرفت میګوید : از اینکه جهان کفري هیچګاهي تحمل پذیرش نظام ناب اسلامي را در منطقه ندارد، بناً روز تا روز در صدد برهم زدن فضاي بمیان آمده صلح در کشور بر آمده و میخواهند با مداخلات و سرمایه ګذاري در وجود مخالفین پروسه صلح را خدشه دار نموده و با این عمل شان از بمیان آمدن صلح سراسري در کشورجلوګیري نمایند، به همین منظور کشور هاي مغرض و مداخله ګر در وجود خلیلي و محقق نیز میخواهند تصورات پوچ و واهي شانرا پیاده نموده و از طریق آنها زندګي صلح آمیز مردم مناطق مرکزي کشور را برهم زنند. اما به نصرت و یاري پروردګار توانا، همه پلانها و نقشه هاي شوم آنها افشا و به ناکامي مي انجامد.

در اخیر محترم ملا ګلبدین مطمئن در رابطه به پیوستن قوماندانان مخالفین امارت اسلامي در ولایت بامیان ګفت : ګذشت زمان زمینه، خوبیست بخاطر درك واقعیت ها ، آنعده از مخالفین که در اثر تبلیغات سؤ تا هنوز در صفوف آنها قرار داشتند اکنون با درك عمیق از قضایا و واقعیت ها و اینکه مي نګرند دشمن جهاد ملت مجاهد افغان، کشوري که با تجاوز نافرجام خویش ملت ما را به تباهي سوق داد، اکنون بار دیګر عملاً دست مداخله را دراز نموده با ارسال سلاح و اعزام مشاورین نظامي خویش شعله هاي آتش جنګ را باز هم در کشور ما دامن مي زند. با آګاهي و درك از این مسایل روز تا روز ما شاهد پیوستن مخالفین به صفوف نیرو هاي امارت اسلامي هستیم، چنانچه در ولایت بامیان درین اواخر یکتعداد از قوماندانان مخالفین از دره صوف با ما تماس ګرفته و آمادګي شانرا بخاطر بریدن از صف مخالفین اعلام داشتند که اهالي بامیان درین اواخر شاهد پیوستن آنها به نیرو هاي امارت اسلامي بودند که از جمله از شیر محمد موج، قوماندان حاجي نواب، قوماندان محمد امیر، قوماندان طوي محمد از ولسوالي سیغان قوماندان پاینده محمد از ولسوالي غندك و قوماندان توره قل از ولسوالي کهمرد میتوان نام برد، که قوماندانان متذکره آمادګي براي اجرا هرګونه وظایف را در پهلوي سایر نیرو هاي امارت اسلامي ابراز داشتند.

«عبادي»

توجه

درنو ګیډونکو نکوا که شریعت اوونیزه ته در رسیږي او یا ناوخته رسیږي نو په : ۶۲۸۵۹- ۶۲۸٦۷ شمیرو تیلفوني تماس ونیسي. اداره

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press